شریعت

ورځپاڼه

SHARIAT DAILY

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

شپږم کال ۳۷مه ګڼه پرله پسې (٤١٧) چارشنبه د١٤٢٢ هـ ق کال دربیع الاول ٧١ د ١٣٨٠ هـ ش کال دجوزا دمیاشتې (٩) د٢٠٠١ میلادي کال دمی ٣

د عالیقدر امیرالمومنین د فرمان له مخې

١٢٠ تنه جنګی اسیران له بند څخه خوشی شول

کندهار:

د عالیقدر امیرالمومنین د فرمان له مخې ١٢٠ تنه هغه ... چې د هیواد د شمالي ... د فتحې په وخت کې د اسلامي امارت د اسلامي اردو د مجاهدینو لخوا اسیران شوي ؤ له بند څخه خوشي کړل شول. هغه مراسم چې پرون له

غرمې وروسته د کندهار د سرپوزي په لوی محبس کې د جنوب لویدیځ زون د تنظیمیه رئیس او دکندهار والي محترم ملامحمد حسن رحماني په کندهار کې د سیاسي اسیرانو مسئول محترم ملاحبیب الله رشاد، دجنوب لویدیځ زون د پما رئیس محترم مولوي نقیب الله لیاقي، د

سرپوزي د محبس مسئول محترم ملا ولي جان اخند او نورو اماراتي مسئولینو په ګډون جوړ شوي ؤ.

محترم د تنظیمیه رئیس او دکندهار والي په دې مراسمو کې هر اړخیزې خبرې وکړې او دخپلو خبرو په ترڅ کې یې د اسلامي امارت اسلامي دوستانه او انساني

دوستانه تګ لاره توضیح او تشریح کړه وروسته د خوشې کړل شویو بندیانو په استقبال نوب درېیو تنو د اسلامي امارت د مسئولینو او مشرانو د نیکې اسلامي او انساني رویې څخه چې د دوی د بند په وخت کې ... ٤ مخ

> الهی فرمان
>
> «او هغه ورځ (در یاد کړي) چې ظالم به خپل لاسونه چیچي او وا به یې ارمان چې له پیغمبر سره مې (حقه) لار نیولي وای» (الفرقان - ٢٧)

د پلان وزیرمحترم ملا سعدالدین «سعید» مطبوعاتي کانفرانس ته وویل:

ملګري ملتونه باید د افغانستان د خلکو دښمنانو ته غوږ کېنږدي

ملګري ملتونه دې خپل تقدس او حیثیت وساتي

اسلامي امارت بشري فعالیتونو ته ښه زمینه برابره کړې ده

کابل:

ملګري ملتونه او په افغانستان کې بشري اخوګاني باید خپل کاري فعالیتونه او پروګرامونه د افغانستان له اسلامي امارت سره په بشپړ تفاهم کې همغږي کړي.

د پلان وزیر محترم ملا سعدالدین سعید پرون له غرمې وروسته د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې د کورنیو او بهرنیو ژورنالستانو په وړاندې ... ٤ مخ

د اسلامي امارت د سیاسي کمیسیون په غونډه کې:

مطبوعات باید د نظام او خلکو ارادې منعکس کړي

کابل:

د بهرنیو چارو د وزیر محترم مولوي وکیل احمد متوکل په مشرۍ د افغانستان د اسلامي امارت سیاسي کمیسیون پرون غونډه وکړه.

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ: په سیاسي کمیسیون کې ٤ مخ

د ښځو تولیدي او خدماتي پروژو جوړیدل تأیید شول

په دغو پروژو کې د شړي اوبدلو، ښیښه یي لوښو، نساجي او ژرندو جوړیدل شامل دي

کابل:

د خصوصي پانګې اچونې د عالي کمیسیون د هیأت غونډه پرون له غرمې مخکې جوړه شوه په غونډه کې د اړوندو مسألو په باب له ٤ مخ

موسسه انساني وفا چهار مرکز مجهز طبي را در چهار ولایت افغانستان جدیداً باز گشایي نمود

کابل - شریعت:

خدمات چار شبکه ثابت صحي مربوط موسسه انساني وفا در ولایات هرات، بادغیس، کندهار و کابل شروع گردید.

این مطلب را محترم ابوعبدالعزیز رئیس عمومي موسسه وفا در کابل به خبرنگار ما اظهار داشته افزود:

درین شفاخانه هاي کوچک که از لحاظ بخش هاي طبي تکمیل بوده ص٤

د چین د نړیوالي ماشینرۍ د کمپنۍ مرستیال:

په افغانستان کې د امنیت شورا بندیزونه زموږ په کاري بهیر اغیزه نه لري

کابل:

د افغانستان په باب د لویدیځو هیوادونو تبلیغات بې بنسټه او له حقیقت څخه لرې دي دلته په افغانستان کې د امنیت سوله او امنیت تأمین دی او په بیلابیلو برخو کې پانګې اچونې ته زمینه برابره شویده.

دغه یې د چین دولتي جمهوریت د نړیوالي ماشینرۍ دکمپنۍ مرستیال ... ٤ مخ

بایسکل سواران کابل به تالقان رسیدند

تالقان:

دوتن از بایسکل سواران ریاست عمومي استخبارات بعد از هفتاد ساعت راه پیمایي عصر پریروز وارد شهر تالقان مرکز ولایت ص٤

نیروهای روسیه از گرجستان خارج میگردد

مسکو:

روسیه اعلام کرد که نیروهای خودرا از گرجستان خارج خواهدکرد ... ایوانوف وزیر خارجه روسیه گفت روسیه به ... ص٤

د بهرنیو چارو محترم وزیر دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې وویل:

افغانستان د وسلو او باروتو پرځای دارو درملو او نورو ضروري توکو ته اړتیا لري

کابل:

د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوي وکیل احمد متوکل پرون د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې له هغو هیوادونو څخه چې د اسلامي امارت مخالفینو ... وسلې ... مرسته ... لري او ... جګړې ... له وسلو او مهماتو ... د درملو او ... بشري مرسته ... په ځای ... زموږ د خلکو په ... ستونزو ... ولګوي. ٤ مخ

دولایت سرپل:

جلسه فرهنګی دایر ګردید

سرپل: بخاطر غنامندی فرهنګ کشور دیروز جلسه فرهنګی در ریاست اطلاعات وکلتور ولایت سرپل دایر ګردید، آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد.

در این جلسه که تحت ریاست محترم مولوی عبدالمنان حقیار والی سرپل وبه اشتراک مسوولین اداری آنولایت تدویر یافته بود روی مشی فرهنګی امارت اسلامی وغنامندی فرهنګ اصیل کشور صحبت بعمل آمده توجه مسوولین امور درزمینه جلب ګردید.

افغان لیکوال نصیر شنسب:

په افغانستان کې د اپینو ختمیدل نړیوالو ته وړیا تمام شول

یو افغان لیکوال نصیر شنسب د امریکې غږ راډیو خبریال سره په یوه مرکه کې وویل:

په افغانستان کې کوکنار او اپیم په داسې حال کې ختم شول چې نړیوالې ټولنې ته هیڅ لګښت ور تر غاړې له شو ګویا نړۍ ته افغانستان ٤ مخ

چین منتظر عمل امریکاست

پیکنګ:

رئیس جمهور چین اتخاذ روش نظارت و ارزیابي در قبال مناسبات چین و ایالات متحده امریکا پیش از هر کس به پاسخګویي در انتظار اقدامات بعدي ایالات متحده امریکا خواهد...

یک مقام عالیرتبه چین به نقل قول از رئیس جمهور چین ګفت جیانګ زیمین در انتظار اقدام جورج دبلیو بوش در قبال مسایل تایوان وبرنامه دفاع ضد راکټي امریکا میباشد.

د لویدیځې غاړې په یهود میشتو سیمو کې:

غاصب رژیم د ٧٠٠ کورونو جوړولو تکل لري

بهرني خبري منابع:

فلسطیني چارواکو دې اعلان په وړاندې له غوسې ډک عکس ٤ مخ

د فلسطین د فتح غورځنګ دیوې جلاشوې ډلې له خوا:

دوه تنه امریکایي او یو تن بریتانوی خبریالان یرغمل شول

بهرني خبري سرچینې:

د فلسطین د فتح غورځنګ یوه جلاشوې ډله د فتح بازان وایي چې د لویدیځ خبریالان یې له دې امله نیولي دي چې بریتانیه او امریکا د یهودو ملاتړ کوي. دوه خبریالان امریکایان دي او بل یې بریتانوی دی دفتح د بازانو ډلې ویلي چې دا دری کسان به د بې زړ خوشې شي خو په راتلونکي کې کیدای شي خبریالان و تښتول شي او آن د وژل شي. په بیت المقدس کې خبریالان وایي چې دا نه ده جوته چې دا کار د ټول فتح غورځنګ ملاتړ له څخه ٤ مخ

خدمات زایشګاه هرات روی چه اهدافی متمرکز میباشد؟

اګرچه قضیه تکامل جوامع از بعد توالي وتسلسل آن نګاه کنیم مادران سهم انکار نا پذیری دراین روند تاریخي بعهده داشته ومیزان استعداد وخردمندی هر نسلی ارتباط مستقیم به درجه تقوا وتربیت مادران دارد. محترمه طبیبه مینا «احمدی» موظف ص٢

دوېمو ځانګکي ٣ مخ

سرمقاله

د لوی خدای (ج) په نامه

افغانان وسلو او جګړوته نه، سولې او ودانۍ ته اړتیا لري

پرون د بهرنیو چارو وزارت په مطبوعاتي کنفرانس کې خبریالانو ته هغه نوي وسلې «میلان» وروښودل شوې چې په دې وروستیو وختو کې دخینو مغرضو ګاونډیو هیوادو له خوا په هیواد کې دجګړو او پردولو لپاره مخالفینو ته ورکړل شویده. په دې ترڅ کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر له هغو هیوادونو چې مخالفینو ته دا راز ویجاړوونکي وسلې ورکوي، غوښتنه وکړه چې نور د افغانانو په تیولو مالګې ونه دوروي بلکې د ودانۍ او سوکالۍ په را وستلو کې مرسته وکړي او د دغې ویجاړوونکو وسلو پرځای خواړه او درمل را ولیږي. د یادونې وړ ده چې بدخشان ته د اروپایي ټولنې د یوه پلاوي له کتنې وروسته د لوموړي پلاوي مشر شاغلي ... د خبر په ډاګه کړې ده چې مخالفینو له بهر نه د وسلو تر لاسه کولو او په جګړه کې ٢مخ

د پاکستان پوځي مشر ډهلي ته د ورتګ بلنه په رسمي ډول منلې ده

بهرني خبري سرچینې:

د پاکستان پوځي مشر جنرال پرویز مشرف د خبرو اترو په نیت ډهلي ته د ورتګ لپاره د هغه هیواد د صدر اعظم اټل بهاري واجپایي بلنه په رسمي ډول منلې ده. دا به په دوو کلونو کې دلومړي ځل لپاره ده دارو هیوادونو ترمنځ دلوړې ٤ مخ

در نا آرامی های انګلستان ٣٠ نفر زخمی ګردیدند

اولد هام: نا آرامیهای نژادی در اولدهام انګلستان میان جوانان سفید پوست و اتباع آسیایی دیشب نیز ادامه داشت.

در این نا آرامیها چند موتر ویک مغازه به آتش کشیده شد در نا آرامیهای دیشب اولدهام پولیس بیست ویک نفر را دستګیر کرد.

باز داشت شده ګان هجده جوان سفید پوست وسه تبعه آسیایی هستند.

پولیس همین اکنون غرض جلوګیری از نا آرامیهای بیشتر در منطقه مذکور مستقر و اوضاع را تحت کنترول دارند.

از شروع این نا آرامیها که شدید ترین درګیری نژادی در انګلستان طی سالیان ګذشته میباشد در حدود سی نفر زخمی وسی وهفت نفر باز داشت شده اند.

تهدید ګروه های شورشی برحکومت فلپین

مانیلا:

ګروه های شورشی در جنوب فلپین تهدید کرده اند در صورتیکه نیروهای دولتی مواضع انها را غرض رهایي ګروګان ها مورد حمله قرار دهند عده از ګروګ ها را خواهند کشت.

به ګفته پولیس فلپین بیست نفر از جمله سه تبعه امریکایي در جمله ګروګان ها هستند.

تا اخیر سال روان:

قانون مهاجرت درآلمان تصویب خواهدشد

برلین

احزاب سوسیال دموکرات وسبزها که دولت ائتلاف درالمان رارهبری میکنند درنظر دارد قانون جدید مهاجرت را تا اخیر سال روان به تصویب برسانند. قرار اطلاعات منتشره دررابطه به طرح قانون جدید مهاجرت سالانه درحدود چهل هزار مهاجر نیروی کار به المان وارد خواهد شد. برطبق مطالعات اقتصادی کارشناسان المان رقم بالامیتواند در چند سال آینده به یکصدوپنجاه هزار نفر بالا برده شود به این ترتیب درطرح قانون جدید مهاجرت سهولت های برای پذیرش مهاجرین پیش بیني شده است

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»

مرستیال : غلام محمد فاروق

دیوی ګڼی بیه : په هیواد کی (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری

تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات :٦۲۸٥۹

پست بکس : (٤۷۱) کابل افغانستان

جاری حساب : $\frac{۳۸٥}{۷}$ ٤۰ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتی مطبعه

دسرمقالي پاتی برخه

د مینو په کارولو اعتراف کړی دی ـ خو په هر صورت په دی کې څه شک نشته چې دیو شمیر لاس وهونکو افغان دښمنو هیوادو له خوا مخالفینو ته پریمانه خطرناکی وسلی ، مینونه او نور مهمات ورکول کیږی او په دی توګه غواړی د افغانستان د جګړی له لاری خپل ځانګړی سیاسی ، نظامی او اقتصادی اهداف ترلاسه کړی خو په دی لړکی تر ټولو مهم شی دا دی چی افغانانو دجګړی خوند څکلی اویقیناً اوس سولی ، ثبات او دخپل وران ویجاړ هیواد بیا ودانولو ته اړتیا لری نو په همدی اساس باید ګاونډی هیوادونه اوس له مونږ سره دخوړو ، درملو او نورو اړتیا وړ موادو مرسته وکړی ـ نه داچی خطرناکی وژونکی وسلی را ولیږی او دلته دجګړی اورونه لاژیغړاند کړی ـ مغرض اولاس وهونکی هیوادونه باید په دی وپوهیږی چی نور په افغانستان کی دجګړی وخت تیر شوی ، خلک جګړه نه غواړی او هغه ډلی تپلی چی په پردیو وسلو ، پیسو د سولی او امنیت وړانول غواړی حتماً به له ملته تجرید او وشړل شی ـ افغان کړیدلی ولس د پردیو په شوم نیت پوه شوی او نه غواړی هغه امنیت او کراری چی دهیواد په (۹٥٪) برخه کی د اسلامی امارت تر انتظام لاندی منځ ته راغلی ، له ګواښ سره مخامخ او یوځل بیا له هغو ناخوالو سره مخامخ شی چی څو کاله وړاندی ورسره لاس ګریوان ؤ ـ او معلومه ده چی د بشپړ نظم او سمون په را وستلو کی د هیواد غوڅ اکثریت د اسلامی امارت ملاتړ کړی او دهری ورځی په تیریدو سره دلی دلی وسله وال کسان د مخالفینو له لیکو رابیلیږی او د مرکزی حکومت د ټینګښت ، نظم او قانون را وستلو او د هیواد دځمکنی بشپړتیا په تکل د اسلامی امارت د مجاهدینو په خوا کی دریږی مخالفین هم باید ومنی چی ډیره لویه اشتباه یی کړی او د خپل مجاهد ولس د هیلو او ارمانونو پرخلاف روان دی چی خامخا به په دی لارکی یوازی پاتی کیږی او دلسوونکو هیوادو وسلی او پیسی به یی هیڅکله هم له حتمی سقوطه ونه ژغوری ـ د افغانستان اسلامی امارت یوځل بیا له مغرضو هیوادو نه په کلکه غوښتنه کوی چی نور دی په افغانستان کی خپلی لاس وهنی بندی او له داسی اقداماتو ځان وساتی چی شایی یو ورځ بیرته د دوی په تاوان تمام شی ـ

خدمات زایشگاه هرات . . .

دربخش زایشگاه شفاخانه حوزوی هرات درپاسخ به این سوال خبرنگارما که خدمات صحی زایشگاه روی چه اهدافی تمرکز یافته ؟به خبرنگار ماگفت :

هدف ازتنظیم وارائه خدمات بموقع صحی دربخش زایشگاه مساعدت به طبقه اناث به ویژه مادران میباشد که این اصل کلی شامل کمك به صحت کامل زنان ارتقای سطح آگاهی ازطریق تبلیغات صحی ایجاد شرایط مناسب برای حفظ الصحه ، جلو گیری از امراض انتانی و ساری ولادت اطفال سالم مصئونیت مادران حامله به شمول جلو گیری از کم خونی نزد خانم های حامله ایجاد فاصله بین ولادت وتفهیم فواید شیر مادر به اطفال میباشد. طبیبه مینا احمدی درخصوص تشکیل زایشگاه افزود : شفاخانه زایشگاه هرات دارای بخشهای نسائی و ولادی است . که شامل سکتور جراحی های صغیره وکبیره بوده به کمیت شانزده تن طبیبه وشانزده تن نرس وقابله وپرسونل خدماتی درآن به طور ٢٤ ساعته ایفا ی خدمت می نمایند. آنچه مربوط به امکانات وتجهیزات زایشگاه میشود ما درسطح یك شفاخانه محلی عمل می کنیم ، بخصوص تجهیزات مدرن وکافی دراختیارمانیست ولی این کمبودرا همواره از طریق تلاش وایثار هیئت موظف رفع کرده وهنگام عملیات های صغیره وکبیره درولادت های نارس ویا طبیعی انشاالله مشکل وموانع جدی بر سرراه خدمات ما نیست . محترمه طبیبه احمدی به ارتباط وسعت ونحوه همکاری سایر نهاد ها وارگانها با شفاخانه زایشگاه هرات گفت : ریاست محترم صحت عامه ولایت هرات مهم ترین ونزدیك ترین ارگان موثر درانجام موفقانه خدمات روتین ما میباشد وما از کمك های دایمی وبی شایبه شان سپاسگذاریم سایر موسسات با زایشگاه همکاری مستقیم ومحسوس ندارند .درهنگام پذیرش حدود پانزده نفر مریض روزانه به فضل وکرم خداوند متعال وهمت پرسونل زایشگاه مشکل وکمبود جدی وجودندارد . ولی مشکل اصلی کمبود جای است زیرا به ملاحظه تراکم نفوس و کثرت مراجعان ومریضان ، توسعه اتاق های نوزاد ، اتاقهای تبلیغ به ویژه درتبلیغ فواید شیر مادر ، کاملاً ضروری به نظر میرسد .دراخیر تقاضای همیشگی خودرا تکرار وتمنامیکنم که مراجعین محترم بخاطر مریضان خودشان نظم ودسپلین وشرایط صحی را درزایشگاه جداً رعایت وبه حفظ نظافت وفضای آرام آن کمك وهمکاری نمایند . وبه ویژه خانم های به اصطلاح پایواز ازرفت وآمد های غیر ضروری خود داری فرمایند زیراتنها در فضای آرام ومطمئن میتوان خدمات دقیق وموثر تقدیم نمود .

گزارشگر عطا محمد «فریادی»

کوچیان - یوهیراو بی برخی ولس

فساروق

زمونږ دهیواد له مهمو کشالو نه یوهم کوچیانو ته دژوند مناسب شرایط برابرول او دهغوی پالنه او میشته کول دی ځکه دایو لوی ولس او تقریباً دهیواد لسمه برخه نفوس تشکیلوی چی شاوخوا دوه نیم ملیونه وګړی جوړیږی او حقیقت هم دادی چی له پیړیو راهیسی هیڅاهم نه له دوی سره څه مرسته کړی او نه یی دژوند مشکلات څیړلی دی دوی همیشه له دولتی مرستو بی برخی او پرمختیایی پلانونو کی له یاده ویستل شوی . سره له دی چی عموماً کوچیان زمونږ دټولنی له هغو خلکو جوړدی ، څوک چی نه په کلی کی ځمکه لری او نه واستوګنی کور او له وچ ناکامه بی دی ستونزمن او لالهانده ژوند ته اوږه ورکړی . خو څرنګه چی کوچیان له عصری تمدن او تهذیب نه لری او دلرغونی افغانی کلتور دیری بیلګی یی په خپل ټولنیز ژوند کی ساتلی چی په دی توګه بیه توریالی او میړنی خلک پاتی شوی نوځکه یی دهیواد په ساتنه او دفاع کی له یل هرچازیات دیری سربښندنی کړی او له یرغلګرو سره په میړانه جنګیدلی دی ـ دتیری یوی پیړی په اوږدو کی یی له انګریزانو او روسانو سره په جګړو کی پریکنده رول لوبولی او داحقیقت له هیچا پټ هم نه دی له بلی خوا دهیواد په ملی اقتصاد کی هم ځکه لوی لاس لری چی افغانستان یوزراعتی هیواداو کرنه مالداری یی دژوند اساسی بنیادونه دی او معلومه ده چی د مالداری او څارویو دمحصولاتو لکه پوستکو وریو تغرو ، غالیو او ځینی خوراکی شیانو لکه غوښه شیدی ، غوړی او کورت تقریباً زیاتره برخه دهمدی کوچیانو په لاس نوروهیوادوالو ته رسیږی چی پورتنی شیان زمونږ دملی سوداګری او صادراتو مهم اقلام ګڼل کیږی خوداچی دکوچیانوژوند په یوازېنیزه توګه یوازی په مالداری ولاړ او له کروندی بی برخی دی نو دڅارویو په بدبی توله د طبیعی ورشو ګانو په څرنګوالی او حوی حالاتو پوری اړه لری چی بنایی دوچکالی او موسمی ناوړه پیښو له امله دیرزیات اغیزمن شی او داحقیقت مودروانی وچکالی په بهیرکی دسر په ستوګو ولید ځکه په دی وچکالی کی له هرچازیات کوچیان دیرتاوانی او اغیزمن شول . نوددی لپاره چی له یوی خوا دکوچیانو په ژوند کی اساسی بدلون راغلی وی او یوازی په طبیعی ورشو ګانو بی توله بروسه نه وی پاتی شوی او له بلی خوا هیواد په زراعتی تولیدا تو کی زیاتوالی راشی لازمه ده چی د حکومت له خوا ځمکی ورکړل شی او په دی دول دهغوی په ژوند کی انقلابی او چټک بدلون راولی په دی کی شک نشته چی ګران هیواد مو دڅارویو او دکرنی وړ دښتو او میروڅه نیمګړی نه دی . همدارنګه له ځمکی لاندی او بوزیرمی هم څه کمی نه دی او په دیر لږ مصرف یولوی داګ دکرنی او څرویدو جوګه کیدلای شی او دلوی خدای «ج» فضل دی هغه ستونزی نه لرو لکه ځینی افریقایی او خلیجی هیوادونه چی لوی لوی داګونه یی دترخواوبو ریګ او یا سختوبادونو له کبله شاړاو بی ګټی وچ پراته دی - دلته دابوه ستونزه هم نشته ، بس پښتی ځمکی شکلی مناسبه هوااو خوږی اوبه ، هرڅه پریمانه دی خو یوازی او یوازی زمونږ دپلان او تدبیر نشتوالی دی چی نه مو کوچیان په ګیده ماړه دی اونه بښاریان.

نوی تخنیکی پرمختګ او دافغانستان دبیا جوړونی په بهیر باندی دهغه اغیزی

(پوهنیار دیپلوم انجنیر شریفه)

دافغانستان داقتصاد بیاجوړول او ټولنیز اقتصادی سمون دهغو ټولنیز و اقتصادی فعالیتونو دبیا پیل کولو په خاطر دشرایطو دچمتو کولو لپاره دانجینیر ، محاسبوی دوګرافیکی کارونو فهرست په برکی نیسی چی دپخوانه موجود وخو دناوړه شرایطو په وجه ځنډیدلی او یا ړنګ شویدی . دبیا جوړونی بهیر دیو سرک ، ودانی یاکومی ځانګړی اقتصادی موسسی په جوړولو محدود نه ،بلکی هغه وخت پلی کیدای شی چی پخوانی اقتصادی ټولنیز فعالیتونه لرترله په هماغه پخوانی دول له سره پیل شی. زمونږ په هیواد کی له یوی خوا اوږدی جګړی او په ملی اونړیوال کچه دسیاسی نامناسبو شرایطو او له بلی خوا په نړی وال دګرکی داوسنی عصر دچټک علمی ، تخنیکی پرمختګ په وجه داقتصادی بیا جوړونی پروګرامونه باید په هماغه پخوانیو اندازو او کیفیت نه ،بلکی نوی زیاتیدونکی اړتیاوی او پیښی هم ورسره په پام کی ونیول شی . دبیلګی په توګه که دجګړی نه مخکی کلونو دهیواد دټولنیزی اقتصادی پرمختیاپلان نه پامړلرنه وشی دسیکو صنایعو په برخه کی دخلکو دپوشاکی اړتیا وو دپوره کولو په خاطر دنساجی کارخانو دتولیدی ظرفیتونو دپراخولو په لړکی په کندهار ، هرات او بلخ کی دنویو تولیدی ظرفیتونو په جوړولو او دګلبهار دنساجی کارخانی دتولیدی ظرفیت دلوړولو له لاری په نظر کی وچی تر ۱۳٥۹ هـ ش کال پوری دنخی منسوجاتو اندازه په کال کی ۱۲۰ ملیونه متروته ورسیږی او په دی ترتیب ټوکرانو له پلوه زمونږ هیواد په کورنیو تولیداتو پوره شی . چی داالنداژه دهماغه وخت دنفوسو دزیاتوالی داندازی سره سمه په پام کی ونیول شوی وه خو دا پلان هم په عمل کړ محمد داود دجمهوریت له نسکوریدو سره پلی کیدو ته ونه رسید . اوس که چیری په همدی برخه کی زمونږ دخلکو او کورنی مارکیټ اړتیاوی په نظر کی وی نو لازمه ده چی دغیرفعال شوو ظرفیتونو او ناتکمیلو پروژو ترڅنګ په تخمین دول دوه ځلی زیات نور نوی تولیدی امکانات په پام کی ونیول شی حال داچی ددولتی صنایعو پدی مهمه برخه کی اوس یوازی دپلخمری نساجی فابریکه داعظمی ظرفیت نه په ۲۰٪ کیه خسته فعالیت کوی او دکندهار دنساجی پروژی کار دخصوصی پانګی په راجلبولو له سره پیل شوی خو دګلبهار ، کابل بګرامیو نساجی اوځینی نورو تولیدی موسسو نه صرف یونوم دکاغذ په مخ پاتی دی .له بلی خوا په ځینو حالاتو کی داقتصادی فعالیت دبیاجوړونی په وړاندی دنامدلل اوغیرعلمی برخورد او یا ددی موضوع دکیفی اړخونو دبی آهمیته کولو په وجه دترسره شوی کارنه مطلوب نتایج لاسته ندی راغلی . دبیلګی په توګه دطبی او تخنیکی سواد دتولید شرکت چی دافغان کلسمد په نوم پخوانی دولتی تصدی دمادی ، تخنیکی بنسټ په بنیاد دخصوصی پانګی په مرسته بیا فعال شو ،دبادونی وړده دلته دموسسی دبیا رغونی په وخت دکیمیاوی صنایعو د طرحریزی دماسانو له مخی داول نه په صحیح دول لازم تخنیکی ، اقتصادی شرایط په پام کی نه ونیول شوی نوځکه اوس سره له دی چی په تولید کی دارزانه او مومو موادونه کار اخستل کیږی بیا هم داشرکت دمحصولاتو دخرڅولو په اړه دمحصول دکیفیت دټیټوالی او دبیا لوړ دانی ارزش په وجه دسخت اقتصادی پرابلم سره مخامخ دی . داقتصادی موسسو دبیا جوړونی په کار کی خاصتاً دصنایعو کانونو او انرژی په برخو کی دداول حالاتو رامنځ ته کیدل داټکی په داګه کوی چی کوم وخت نه زمونږ هیواد په جګړو ښکیل دی له جګړی نه فارغه نړی کی دعلم او تخنیک ګړندیو پرمختګونو داقتصادی فعالیتونو په کیفیت کی زیات اوږو ربدلونونه رامنځ ته کړیدی اومونږ باید دمعاصر علمی -تخنیکی انقلاب ماهیت او همدادول ددی پرمختګ آغیزی دخپل ټولنیز اقتصادی پروګرام په اړه له پامه ونه غورځوو .اوسنی علمی تخنیکی انقلاب نږدی نیمه پیړی وړاندی پیل شوی . ددی انقلاب دپیل نه مخکی هم علمی تخنیکی پرمختګونه و خو داپرمختګونه دعلم او تخنیک ددومره نږدی یووالی او همآهنګی سره مله نه وو لکه څرنګه چی په وروستیو پنځوسو کلونو پوری اړه لری ځکه چی په همدی وروستی مهال کی دعلم او تخنیک لاسته راوړنی او دمعلوماتو اندازه په څوځلی ددی دوران نه مخکی زروکلونو په پرتله زیات دی . اوس دهرودوه یا دریو کالونو په ترڅ کی دځمکی دکری په مخ یونوی کشف یا اختراع ترسره کیږی .علمی - تخنیکی انقلاب دانسانانو په وړاندی دیر پرابلمونه زیږولی یوله دی پرابلمونو څخه دسونګ مواد او انرژی پرابلم دی همدااوس په کال کی دځمکی په مخ د ۱۰ ملیارده ټنو نه زیات دسونګ مواد (محروقات) تولیدیږی چی په وروستی وخت کی دانرژی او سونګ مواد وفقر او کمبود په اکثر و ځایو نوکی مطرح دی . دګاز او تیلو دکانونو یوخصوصیت دادی چی بیرته نه احیا کیږی. وروستی څیړنی ښیی چی دتیلو او ګاز موجودی زیرمی یوازی دخلوینښتو کلونو لپاره کفایت کوی چی یوازی لږ شمیر هیوادونه کیدی شی ددې وخت لپاره په خپلو دغو انرژیکی زیرمو تکیه وکړی . همدا راز دساینس اوتکنالوژی چټکی ودی دنفتو اوګازداستعمال نوی اوزیاتی زمینی رامنځ ته کړیدی پدی لړکی وروستی نتیجی دادول دی : نفت اوګاز ددی پرځای چی دسونګ دمواد و په توګه تری کاروا خستل شی په دول دول کیمیاوی صنایعو کی یی استعمال دیر بهتر او ګټوردی . نوځکه پرمختللی صنعتی هیوادونه اوس په دوامدر دول دخپلو زیرمو راایستل کموی او پر ځای یی داوپک په هیوادو نو ددی کانونو داستخراج دزیاتو الی او ددو ی لورته دوړلیږ لو په خاطر راز راز سیاسی او اقتصادی فشارونه استعمالوی. دیادونی وړده چی زمونږ په هیواد کی هم له ګاز نه دکیمیا په صنایعو کی دګټی اخیستنی دیره ښه تجربه (لکه مزار شریف کی دکیمیاوی سری او بریښنا تولید کارخانی) موجوده ده چی کیدی شی ددی دول تجربو پراختیا اوځواږخیزه کولو ته پاملرنه وشی. دانسانانو په وس کی داوسنیو وسایلو په واسطه دلاسته راغلو ارقامو او معلوماتو په اساس دځمکی کره د٤ ملیاردو کلونو په شاوخواکی وجود لری چی پدی کی ګټورمواد لکه ډبرو سکاره ، ګاز اونفت په تدریجی دول داوږدی مودی په دوران کی تشکیل شوی خو انسانان د۳ نه تر ٥ پیړیو راهیسی دازیرمی مصرفوی خو اوس ددی قیمتی موادو دکمبود پرابلم مطرح دی چی بشر دانرژی دپاره دنوو زیرمو او زرایعو په لټو لو او رابرسیره کولو مکلفوی . په اوسنی نړی کی دانرژی دزیرمو دتامین کار په څلورو عمده لورو پرمختګ کوی : ۱- حرارتی ستیشنو نه (ګاز ، نفت اونور) ، ۲- داوبوبریښنا ستیشنو نه ۳، - داتومی بریښنا ستیشنو نه او ٤- دلمر انرژی . دحرارتی ستیشنو نو په هکله عمده پرابلم دادی چی دسونګ مواد دڅه وخت په تیریدلو کمیږی او یا له منځه ځی نوځکه ددی دول ستیشنونو دپراختیا لر لیدونه په زړه پوری ندی .زمونږ په هیواد کی دچټک خوځښت لرونکی سیندونه هم شته چی په کال کی په نورمال دول د ٥۰ نه تر ٥٥ کیلو مترو مکعب پوری اوبه لری . په اوسنی وخت کی ددی اوبو نه په سلو کی ۳۰ برخی دځمکو دخړوبولو لپاره مصرفیږی او د ۱۷ ملیونه هکتاره کرنیزی ځمکی له جملی نه صرف ۲.۸ ملیونه هکتاره ځمکه داوبو لګونی سیستم او امکانات لری . دهمدومره زیات مقدار اوبو نه کیدای شی دبریښنا دانرژی لپاره زیاته ګټه واخستل شی پدی هکله دمخکی نه لمړنی څیړنی هم شویدی داتومی بریښنا د ستیشنونو جوړول دیر وخت او زیاتی پانګی ته اړتیا لری په اوسنی وخت کی حتی په ځینو هیوادونولکه المان کی دانسانی استوګنی سیمی دککړتیا او استعمال شوو موادو دشنډولو ،بی ضرره کیدنی او مصؤن دفن کولو د لورو لګښتونو په وجه اوس ددی دول تاسیساتو له جوړولو ډډه کیږی او حتی موجود ستیشنونه هم ترل کیږی .

له بلی خوا دراډیو اکتیف فعالیت لرونکو موادو زیرمی هم لری دی چی که ستیشنونه جوړ شی بیا به هم دا او مواد و د کمبود او نشتوالی په وجه ترل کیږی .

باقی لری

چــې کــشــور دافــغــانانو معطر کا
دهربیت مصرع می زلفی دخوبان کړی
دشعر او ادب ڼړی

د ننګ توره

امیدوار کیړه وال

توري شیبې ږنا ږنا کړه نوراني مخ راښـــکاره کړه
د اسمان ناوکي جان جان د زړه هیله مـې پوره کړه
ستوري ببا درنه تاوشوی لکه تور ښامار د زلــفو
دنیلي اسمان لمن دې دشفق په وینــو ســـره کړه
حورو ببا غسل درکړی پلوشې دې له مـخ خـپري
کائنات چوپه خوله ښکاري نور دحق ږنا خوره کړه
د باطلو حسدونه مـات کـــودوري دکــلال شـــوه
خلیلي عزم په خپله د خپل پلار خـونه سپیره کړه
د نمرود اورمې ګلزار کړو حق سر ټیټي زورتـه نـشو
چي منصور په خپله خوښه دحق لار کي غـرغره کړه
ګرندی ګرندی مه ځـه قـــدم ورو ږده بیره مـــکړه
ارمانجـن زړونه دې ســـیال کړی خوښ یې لا په ننداره کړه
د دنیا غیږه کی نشـــته خوشـــالي ویراو ماتم دی
کله سپینه کله توره نفس شیطان زمــونږ څیره کړه
تا نه پټه او ښکاره نه دی تـــا زمــونږ هــر څـــه لیـدلي
سرو لښکرو په مونږ تیره د تعـدا ظـلم دوره کـړه
د جهاد له برکته لوی قـــدرت مو په ګـــوتــو کړو
په روسانو مې مور بوره په الحاد مې خـوا سره کړه
سپین بیرغ مو په نڅا کړو د آمو دسیند پـه غاړو
دسپین غر پامیر له سره هندوکش ته مي نـاره کړه
خپلواکي مو مبارک شه د اسلام دبوې شــوې بلي
افغانانو امیدواره چي پــه ننــګ تـــوره تیــره کړه

د اوښکو هنداري

بحــــــــي «ګلمــــــزي»

د تورو شپو په تورو څنو کــې تیاري پټي کړه
تک ســپــین سالو پري د سپیدي دسهار ورپوه
دهجر پټبي وربانديمه ږده ګنهګار به شي پري
جندي د وصـــل د آرمــان په مزار ورپوه
وخته مضراب شه چي زګېروي مي په نغمو بدل شي
د ژوند په مات ستار کي داســي يو تار ورپوه
پرپرده ګلونه کاغذي که څني اخلي نــشي
بورا وزرونه دي په ګـل دکـــوکــنـار ورپوه
مـــا خو مي زړه نناته ډالي کړلو چي ته به څنګه ؟
په شوخو سترګوکـــي دي ښکلیه اظهار ورپوه
د رڼو اوښکو په هندارو کي څه ښکلي ښکاري
«ګلمزیه» ببا پکي تصویر د نګار ورپوه

وژاړم که وخاند م ؟

دین محمد «درویش»

يو خــوا بهـــارونــه دي ، بل خوا خزانونه دي
منځ کي سره اورونـه دي وژاړم کـــه وخـــاند م
لو مو په عزت شو ګډ ، اور مو په عزت شو ګډ
لا هم ګـــــوزارونــــه دي وژاړم کـــه وخـــاندم
وريځي په آسمان ويتم ، تالـــنده باران ويــنم
وابه لوند ګـريوان لره وژاړم کـــه وخـــاند م
ناست دي پـه کـمين دښمن ، زړه يي راته شين دښمن
دوست چي په چل ول وينم وژاړم که وخـــاند م
دا سپيره لـــتيوني نه کــرکه او نفـرت خــيري
غور په غورو مست آشنا وژاړم که وخـــــاندم
تار د معنويت باندي وګنده دســـوال شـــوندي
دغه «درويشي» ژوند ته وژاړم کـــه وخـــاندم

دوینو څاڅکی

يو څو تڅکی
د احساس په پیوندونو
یوله بل سره تړلي
چي یي لولم،
وایم مخکه په لړزه ده
غرونه ریږدی
یا اسمان درزونه کړی
لمر مړشوی ، ستورځمړه دی
ترینه کاني را وریږی
يو څو تڅکي چي يي لولم
بي اختياره مي څو آهه
له وچ ستوني را بهر شي
او څو څاڅکي مي د اوښکو
د سوچونو سلسله کي
ميلمانه دګريوانه شي،
هم په څو لنډو شيبو کي
ټول تاريخ راته انځور شي
د شهيد د وينو څاڅکي
وار له واره په خندا شي
څه هنداري څه ډيوي شي
پر او وږ ، ښکلي بدرنګه
مي يو يو تر نظر تيرشي
او ډاډه شم
چي همدا څاڅکي د وينو
طوفانونه زيږوي شي
دا ويده ويده که وينس شي
د همدې ډيوو رڼاته
سومنات لا ماتوی شي

خپلواک «ساپی»

په پښتو شعرکی مذهبی څرکونه

د ثبات لیکنه او څیړنه

(۲)

راغلو په اوستاکی :

اوستاچي دباختر دکتلی داریاباتو دهغه ټولګی کتاب دی چي بي دهند وفارس خواته مهاجرت نه دی کړی او په خپل وطن کی پاتی شوی دی او دآریاباتو د استوګنی دلومړی ځای په باب کی دریګ وید د سرودونو په نسبت په واضح ډول بحث کوی ..

په اوستاکی د قبیلی دمفهوم پیژندنه او د اریاباتو په هکله تاریخی او اتنوګرافیکی څیړنه خورا برجسته ښکاری او د دوی دمهاجرتونو په باب پکی پراخی خبری شوی دی د دی پورتنی لنډی څیړنی اساسی مقصد دادی چي د لرغونو زمانو راهیسی چي ادب او هنر د ټولنی د مخکښو او اګاهو عناصرو له خوا ایجاد شوی دی په ټول اجتماعی او مادی ژوند کی یی مذهبی تجلیات او عقیدوی پلوشی بلی ښکاری او په حقیقت کی د دوی د ژوندانه او ټولنی لارښوونکی او الهام ورکوونکی برخه یی تشکیله کړی ده .

که دتاریخی زمانی دی وروستیو پیړیو ته را ورسیږو په انکار نه منونکی ډول کتلای شو چي بیاهم زموږ د ټولنی د هنر او ادب په بعدونو کی اسلامی شغلی ځلیږی او که په پوره وضاحت او صراحت موضوع ته ور داخل شو نو به په زیاتو اثارو کی وګورو چي پیل یی په بسم الله او یا ددی په ورته مفهوم او وروسته حمد شریف او بیا نعت شریف لیکل شوی او تر دی .... دکتاب موضوعګانی بیانی شوی دی ، ددی خبري معنا داده چي یي له ښکـ زموږ د ټولنی د شاعرانو او لیکوالو په زیاترو اثارو کی د اسلامی .... نفوذ او څواکمنی بیخی زیاته ځلانده او اغیزمنه ښکاری او زموږ په ټـولوی ، قومی ، ملی او ټولنیز ژوند کی چي د ټولنی اساسی پایی تشکیلوی هری زاویی ته ورانګی رسیدلی دی داخبره هم د پوره یادونی وړ ده . هر وخت چي په پښتو اثارو کی دملی ارزښتونو غښتلی اغیزمنی د اسلامی عقیدی د اغیزو سره یو ځای شوی ده نوبیخی زیاته څواکمنی او د سرایت ، جذابیت او هڅوونکی قوی په حیث رامنځ ته شوی دی .

د مثال په توګه :

زموږ دملی ارزښتونو او نژادی میراثونو په جمله کی چي اریائی او افغانی ځلانده ممیزی یي ژوندی او وبارلی پدیدی دی لکه میړانه ، شجاعت ، زړورتیا ، سرښندنه ، د ازادی خاوری ، او ملی نوامیسو مینه درلودل ، میلمه پالنه ، ږښتینولی او سپیڅلتیا او داسی نور چي کله د اسلامی احساساتو په رڼاکی تبلور ومومی نو جذابیت ، الهام ورکولو او هڅولو یي زیات قوت پیدا کړی دی او داځکه چي دغه پورتنی غوره څانګړتیاوی او ممیزی د پښتو هغه غوره او بی ساری فرهنګی میراثونه دی چي د ..... مقدس دین نه بوازی هغه د اسلامی اخلاقو څخه ګڼلی بلکی هڅوی نه یی .... ارزښتمندی او اغیزمنی وریخښلی ده .

همدا ډول موږ ددی واقعیت شاهدان یاستو کله چي د وطندوستی ، د ازادی او خاوری سره دمینی ، میړانی ، زړورتیا او سرښندنی په باب یو حماسی شعر یا نثر د اسلامی جذباتو د روحیی ، مفاهیمو او تلمیحاتو سره یوځای و لوستل شی او یا په ترنم کی وړاندی کیږی ، نو په واقعیت سره دا حماسی شعر په مومنو او مسلمانو لوستونکو او اوریدونکو جادویی اغیزه کوی ، هغوی ته الهام ورکوی او یو قهرمانانه او شهکارنامه عمل ته یی ګماری .

د پورتنیو توضیحاتو څخه جوتیږی کله چي د اسلام دنفوذ تاثیرات دملی ارزښتونو سره یو ځای شوی دی نو حتی زموږ د ټولنی دا معنوی قوت په یو مادی قوت بدل شوی دی د بریالیتوب په چارو او لارو کی یی هر ډول خنډونه او ستونزی له منځه وړی دی .

چي دادی په دی برخه کی یعنی «په پښتو ادب کی اسلامی څرکونه» تر څیړنی او کتنی لاندی نیول کیږی او ګورو چي زموږ د ټولنی د پښتو شاعرانو په اثارو کی ددغو څرکونو ږڼا تر کومه حده زیاته ده .

پاتی لري

ننګرهار دادب په پلو شو کی

(۲)

علي محمد منګل

دننګرهار په باد يي داسي د ر افشاني کړي ده :

زما ګلرنګه ننګرهاره لاله زار دي يي
چي شدويي دريکي اوسي تل بهار دي يي
ستا ورشوګاني دي رنګيني يي د تل لپاره
دخپل ښپونکي ، خپلي رمي د زړه قرار دي يي
ستا ګل بټونه دي سمسوروي
ننګرهاره زما !
د بلبلانو دسندرو دچغار دي يي
ستا دنارنج ګلان دي ګل وي پسي ګل يي ګل وي
دهر شاعر دهر اديب زيب دګفتار دي يي
پس له کلونو نه درځم ستا ګليټونو لره
د لري بري پښتونخوا دغاري هار دي يي
د آزادي بهار دي لانځوبه په مينه مينه
دمسلمانو پښتنو د افتخار دي يي
دحنيفي د زړه قرار د زړه سکون يي ګرانه !

دمبی کور ، دهر مین ، دهر ماڼیار دي يي ،
زموږ د ډير پاخه اديب او ستر شاعر
ښاغلي حافظ په لاندي خوږو بيتونو
يه د «ننګرهار د ادب په پلوشو کي»
لمن لاپسي ګل او ښايسته کړو :
زه ننګرهار په دسپين غر دهـکي غاري هار يم
زه ننګرهار يم
بهار : ت منت په څه وړه چي زه تل بهار يم
زه ننګرهار يم
زما لمن دي مدام د که د سرو ګلو څنبي
بوه باغچه مي خالي نه وي د بلبلو څني
زما فضاته فضاګاني په حسرت ګوري دي
زما هوا ته هواګاني په حسرت ګوري دي
چي د نسيم خوږه ورمه مي په نڅا راشي
بي دمه زړونو ته جوړ د مه دمسيحا راشي
زه لرغونو يمه دعلم او معرفت زانګو

يم ددي لويي پښتونخوا دمدنيت زانګو
رنګينه پايه د افغان د تاريخونو يمه
مشت ټونه د ننګ غيرت له خرواره يمه
يم د هيواد دمجاهد او غازي نو سينه
دننګيالو توريالو شازلميانو سينه
دخپلواکي وږمي نغښتي په ګلونو کي دي
همدا نغمي مي د بلبلو آوازونو کي دي
سـ زما زلمو تل دهر زوور سره د غرو هلي
دغه ميدان يي په ميرانه په خپل سر وهلي
دځينو مخ مي لا د تورو پر هرونه لري
دشنشاد غرمي لا په زړه کي ارمانونه لري
دشهيدانو په مزارمي سره توغونه رپي
د غليمانو په سينو کي مي لا زړونه رپي
چي سرويي جار زما په لاروي زه له هغو جار يم
زه ننګرهار يم
زه ننګرهار يو دسپين غر د هـکي غاري هار يم
زه ننګرهار يم

پاي

ورور ولی راغله

حبيب الرحمن «حبيب» خوږياني

يو ســرلی دی يو اختر شو خوشـالي راغله
زمونږ وطن باندي پخوانه ارزاني راغله
وروريه په ورور پسي ماشينه او ټوپک را ځستو
هغي نه خلاص شو زمونږ ملـک کي ارامي راغله
چابه له کوره څه ابستلای نشو چــوور چپاول
غلونه لاس پري شو دی وطن کي ســوکالي راغله
د کابل ښار کـــي به کړاري ژ همېش د توپو
خلـک ژ ــــيږي له جـــګونه کراري راغله
ماشومان ټول اوس هوسيږي مکـــتبونو ته ځـي
د هر مکتب مخـــي ته وروره رڼاني راغلــه
دښمن مو ســـه دي پيژندلای لاس راوړلای نه شي
زمونږ کورجوړ شو د دښمن په کور وراني راغلــه
د هر مامور لاس کي دوســـه ده دفترونو تــــه ځي
«حبيبه» ټول خلک خوشال دي ورور ولي راغلــه

۱ - په شفاهي ادب کي :

ننګرهار ټول باغچي باغچي دي
هره باغچه کي لیلیٰ ګل کرلي د يته
ب خو له خپلو سترګو ځان کي
دوي ننګرهار باغونه ډير کښلي ديته
ژبي په هرځاي کي ستړيږي
په ننګرهار کي توريالي ستړشوي ديته
لالیه ! روغ به لیوني شي
که ننګرهار ماته ګري دي وليدنه
وه شيرينه ياره !
په تور اوربل کي ننګراري ګلونه ږدمه
وه شيرينه ياره !
ماته ننګراري ګلونه راوړه له بازاره

۲ - په تحريري ادب کي :

زموږ تکړه او خوږ ژبي شاعر حنيفي چي دجهاد په اوږدو کلونو کي له هیواد او ګران وطن څخه لري په غربت او پردیسی کي شپي سبا کړي دي . او له مودو وروسته هیواد ته راغلي

اعــــلانات

وزارت امور سرحدات وقبایل یك باب دكان مربوط خویش واقع چهارراهی ملك اصغر را با نجیب الله فرزند محمودخان ماهانه مبلغ سه صدوده هزار افغانی برای مدت یکسال قرارداد مینماید .مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت امور سرحدات بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۳/۷ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد.

***

وزارت امور سرحدات وقبایل یك باب دكان مربوط خویش واقع چهارراهی ملك اصغر را با جلات خان فرزند شایسته خان ماهانه مبلغ دوصدوبیست هزار افغانی برای مدت یکسال قرارداد مینماید . مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت امور سرحدات وقبایل بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۳/۷ تاده روزمراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد.

***

وزارت امور سرحدات وقبایل یك باب دكان مربوط خویش واقع چهارراهی ملك اصغر را باعبدالبصیر فرزند مولوی محمداعظم ماهانه مبلغ سه صد هزار افغانی برای مدت یکسال قرارداد مینماید . مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت امورسرحدات بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۳/۷ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد.

***

معادن گل سر شوی ولایت لوگر وظواهر معدنی ولسوالی چهارآسیاب ولایت کابل طور قرارداد به اجارده داده میشود . اشخاص وموسساتیکه خواهش قرارداد آنراداشته باشند درخواست های خویش را بریاست تصدی استخراج معادن بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۳/۷ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

وزارت معارف غرض استفاده طلاب مدارس شهرکابل بتعداد پنجصد دانه تخته سیاه کلان حروف نویسی ضرورت دارد . اشخاص وموسساتیکه خواهش جور کردن آنرا داشته باشند افرهای خویشرا طور سربسته بمدیریت خدمات ریاست تعمیرات وزارت معارف بسپارند خودویا نماینده شان از تاریخ ۱٤۲۲/۳/۷ تاده روز مراجعه نمایند دوقعد تضمین اخذ میگردد.

***

یك باب کمپ سوریاست تصدی استخراج معادن به ترمیم اساسی ضرورت دارد اشخاص وموسساتیکه خواهش ترمیم آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بریاست استخراج معادن بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۳/۷ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذمیگردد.

***

یك باب خبازی ملکیت اداره عمومی املاك وتنظیم امور زمینداری واقع شهرنو برای مدت یك سال به کرایه داده میشود. اشخاص وموسساتیکه خواهش قرارداد آنراداشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات اداره املاك وتنظیم امور زمینداری واقع چارراهی انصاری بسپارندوخودشان ازتاریخ ۱٤۲۲/۳/۷تا ده روز مراجعه نمایندشرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد.

***

بیست و پنج قلم گوشت وترکاری مورد ضرورت ریاست عمومی اداره امور را شرکت شیراحمد کریمی لمتد به قیمت مجموعی مبلغ سه ملیارد ودوملیون وششصدوچهل ودوهزارو پنجصد افغانی میرساند . مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بریاست تهیه وتدارکات اداره امور بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۳/۷ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذمیگردد.

***

وزارت امور سرحدات وقبایل یك باب دكان مربوط خویش واقع چهارراهی ملك اصغر را با رحمت الله فرزند محمد الله ماهانه مبلغ سه صد هزارافغانی برای مدت یکسال قرارداد مینماید مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت امور سرحدات وقبایل بسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۳/۷ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد.

د پوهنې وزارت تدريسي معين محترم ملا عبدالسلام حنيفي :

عــــربي د قــــرآن عظيم الشان او زمـونږ د پيغــمبر «ص» ژبه ده

کابل - شريعت :

تدرمنو لوستونکو ! ستاسي پام د هغې مـرکې لوســتلو ته راگرځوو چي زمونږ خبريال د پوهنې وزارت له تدريسي معين محترم ملا عبدالسلام حنيفي سره کړي ده .

پوښتنه : محـتـرم حنيفي صاحب ! په دې وروستيو ورځو کي داسي اوريدل کيږي چي گواکي د پوهنې وزارت له هغــو بهــرنيو مرســـو څخه چي په افغانستان کي د هغوی په مرسته بو شمير مدرسي فعالي دي بولږ غوښتني لري .

آيا داخبري واقعيت لري او که نه که چيري ريښتيا وي نو ستاسي غوښتني به څه وي ؟

ځواب : داچي د آزادو مدرسو د سوونکو معـاشونه دي له امارتي معاشونو سره يو شان او برابر شي دا خبره واقعيت نه لري . د پوهنې وزارت د عاليقدر اميرالمومنين له حکم سره سم داپريکړه کړې ده : کومي موسسي چي هغوی په افغانستان کي يو شمير مدرسي فعالي کړي دي بايد خپل پروگرامونه او چارې د پوهنې وزارت له مــقــرراتو ســره همـاهنگي او د خــپلو ښــوونکو معــاشونه د پوهنې وزارت له لاري هغوی ته ورکړي . چي البته اروندو موســـسو هم په دې باب خپل نيک نظر ځرگند کړي دي .

پوښـــتنه : په نوي تعليـمي نصاب کي مو ديني مضـامينو ته څومره ځاي ورکړي دي ؟

پوښتنه : په نوي تعليمي نصاب کي مو ديني مضـامينو ته څومره ځاي ورکړي دي ؟

ځواب : په نوي تعليمي نصاب کي هم د پخـــوا په شـــان ديني مضـامينو ته ځاي ورکړ شوي دي خو بوازي په تدريسي ســاعــتـونو کي زياتوالي راغلي دي . پخوا به بوازي په پښتو او دري ژبو تدريس کيده خو اوس په عربي ژبه هم تدريس کيږي . ځرنگه چي عربي ژبه د قران عظيم الشان او زمونږ د پيغمبر عليه السلام ژبه ده نو د طالب العلمانو لپـــاره مـهـمـه ده چي بايد له دې ژبې سره آشنايي پيداکړي .

مرکه کوونکي محمد رفيق «عزت»

جنک هاي بي مفهوم همه هست وبود تصدي افغان تركاني را دركـام خــود فــرو برده است

کابل - شريعت :

علاقمندان عزيز ! بيائيد مصاحبه محترم مولوي فخرالدين هروي رئيس تصدي افغان تركاني را باخبرنگار ما يكجا به خوانش بگيريم :

در آغاز محترم مولوي فخرالدين هروي رئيس تصدي افغان تركاني چنين فرمودند :

تصدي افغان تركاني در سال ۱۳٤۰ به شكل شركتي بنام افغان موبل سازي تأسيس گرديد .

درسال ۱۳۵۱ به شكل تصدي ۱۰۰٪ دولتي در چوكات وزارت معادن وصنايع وقت فعاليت هاي خويش را ادامه ميداد .

نامبرده افزودند :جنگ هاي بي مفهوم همه هست وبود مارا دركام خود فرو برد . تصدي افغان تركاني در جريان اين جنگ هاي بي مفهوم كه درشهر كابل بين گروه هاي متخاصم وقدرت طلب بوقوع پيوست خسارات هنگفتي را متقبل گرديد . چنانچه ۸۰٪ ماشينري و وسايل توليدي خويش را از دست داد .

موصوف در خصوص چگونگي حالت كنوني وفعاليت هاي تصدي افغان تركاني چنين معلومات دادند :

تصدي افغان تركاني اكنون با امكانات دست داشته خويش كه عبارت از : مبلغ ۵۰۰ مليون افغاني سرمايه دوراني وهمچنان مبلغ ۵٤۱ مليون افغاني سرمايه ثابت ميباشد فعاليت هاي خويش را درساحه پارك تيمورشاهي باداشتن ٤۱ تن پرسونل فني دربخش هاي توليدي موبل ، فرنيچر ، پله وچوكات ، دروازه وكلكين ، رنگمالي وفلزكاري ، شبكه كاري ، طريقه كاري چوبي وامور نجاري تعميرات وغيره بخشها به پيش ميبرد .

بخش عمده وسايل كاري مارا وسايل وسامان آلات بسيار ساده وعادي دستي تشكيل ميدهد تصدي ما فرمايشات ارگان هاي امارتي وشخصي را باشرايط سهل پذيرفته ومطلوبه شان را باكيفيت بسيار عالي ، ارزانتر از نرخ بازار به نرخ تثبيت شده در خدمت شان قرار ميدهد .

محترم هروي افزودند كه برعلاوه مركز اين تصدي در شهر كابل در ولايت كندهار نيزيك آمريت مجهز با وسايل وسامان آلات فعاليت دارد كه در آن شش پايه ماشين نجاري ويكپايه ماشين اره فعاليت دارد .

بايد گفت كه غرض بهتر شدن و ارتقاي سطح توليدات افغان تركاني در نظر داريم تايك نمايندگي از توليدات ولايت كندهار را درمركز تصدي تأسيس نمائيم .

در اخير محترم هروي رئيس تصدي افغان تركاني وعده سپردند كه در آينده باسعي وتلاش خستگي ناپذير پرسونل وطندوست و پركار خويش تلاش خواهيم كرد تا ساير بخش هاي اين تصدي را كه فعلاً فعال نيست آنرا احيا ، وآماده خدمت به هموطنان خويش سازيم .

عبدالبصير

تـــوجـــه !

ايمان شما اجازه نخواهد داد كه اوراق حامل چنين كلمات مقدس را به بي حرمتي بگذاريد.

ملگرو ملتونه بايد ...

ځرگندولو سره په افغانستان کي د بشري مرستو د ناظم بناغلي اريک ديمول په مشري د ملگرو ملتو د سازمان د هيأت او د اسلامي امارت د مقاماتو ترمنځ د ليدنو کتنو اوخبرو اترو نتيجي له هيلو د کي وبللي . او وي ويل که څه هم د ملگرو ملتو د سازمان د امنيت شورا د بنديزونو په لگيدو سره په افغانستان کي د ملگرو ملتو د سازمان او د بهرنيو انجوگانو مرستي کمي شويدي خو د افغانستان اسلامي امارت له خپل توان سره سم د ملگرو ملتو له سازمان او له بهرنيو انجوگانو سره د همکاري غوښتنه کوي چي خپل پروگرامونه او فعاليتونه د پلان له وزارت سره په تفاهم کي برابر کړي لکه څنگه چي له بهرنيو انجوگانو سره چي کابو اتيا انجوگاني احتوا کوي د پلان محترم وزير د ملگرو ملتو د سازمان د بشري مرستو په اړوند وويل : د افغانستان له خلکو سره د دغه سازمان مرستي د نورو هيوادونو په پرتله ډيري کمي دي مورد افغانستان له مصيبت ځپلو خلکو سره د دغه سازمان د مرستو د زياتوالي غوښتنه کوو . دده دغه ټکي ته په اشاري سره چي د افغانستان اسلامي امارت تل د دغه سازمان او نورو نړيوالو خيريه سازمانونو د فعاليتونو د چټکتيا لپاره د اسانتياوو د برابرولو په لټه کي دي وويل : ملگري ملتونه او ورته موسسي بايد خپل تقدس او حيثيت وساتي او هيڅکله د افغانستان د خلکو د دښمنانو نيونو او دروا غونه غوږ کښيږدي اسلامي امارت د خپل توان په حدودو کي د هر هيواد او يا سازمان له خوا چي وي د بشري فعاليتونو هر راز زميني برابري کړيدي او په دي لاره کي له هيڅ راز ملاتړ څخه ډډه نه کوي .

په پاي کي د پلان وزير محترم ملاسعدالدين سعيد د کورنيو او بهرنيو ژورنالستانو پوښتنو ته ځواب وواية .

۱۲۰ تنه جنگي ...

ورسره شوي وه خوښي ځرگنده کړه د خوښي کړل شويو بنديانو له جملي څخه ۸۰ تنه د مزارشريف او ځلويښت تنه د فارياب ولايت اوسيدونکي دي دوي له خوښي کيدو وروسته د خپلو کورونو په لوري وليږدول شول . دغه ۱۲۰ تنه بنديان د هيواد د شمالي ولاياتو د فتحي په وخت کي د اسلامي اردو د مجاهدينو لخوا اسيران شوي ؤ .

مطبوعات بايد ...

پداسي حال کي چي د اطلاعاتو او کلتور وزارت نشراتي معين محترم مولوي رحيم الله ژرمتي ، د کورنيو چارو وزارت امنيتي معين محترم ملا خاکسار اخند د استخباراتو د لوی رياست مرستيال محترم ملا عبدالحق وثيق او د دغه کمسيون نور غړي حاضرؤ .

: ملي او نړيوالو قضيو او د نړی د سـيـسي بدلونونو په باب خبري اتري وشوي په کميسيون کي وويل شول : د مطبوعاتو رسالت د عامه د هنو د رسانه کول او د نظامونو او حکومتونو د سياست او پاليسي منعکس کـول دي دغـه راز په کميسيون کي د مطبوعاتو د شاخصونو په باب په هر اړخيزه توگه غور وشو لازمي لارښووني وشوي او تصويبونه وشول او پريکړه وشوه چي د منظوري لپاره دي د رياست الوزرا محترم مقام ته وراندې شي چي د هغو په رڼا کي مطبوعات د اسلامي امارت اصلي شعور منعکس کړي او کره وړه او فعاليتونه ئي مثبت تثبيت شي .

او مطبوعات د خلکو د ارادې په منعکس کولو کي خپل تنويري او ترغيبي رول ولوبوي دغه راز پريکړه وشوه چي وروسته دې د کورنيو مطبوعاتو د چاروا کو غونډه هم جوړه شي .

د شپږو توليدی ...

غور او خبرو اترو وروسته د يو سل او نو ويشت مليارده او اته سوه شپږ شپيته مليونو افغانيو په لومړني پانگه او دوه سلو دېرشو مليارده اته سوه دري نوي مليونو افغانيو په وروستي پانگه د شپږو ادبدلو د بيته بي لوبو د توليد ، نساجي ، ژرندی او د ساختماني موادو د توليد په گمون شپږ توليدی او خدماتي پروژې د دغه کميسيون له خوا تأييد شوي چي د دغو پروژو د فعاليت په صورت کي زمونږ په هيواد کي د گڼ شمير هيوادوالو ته به کار او فعاليت زمينه برابره شي .

په افغانستان کي ...

بانگ د باختر اطلاعاتي اژانس له خبريال سره د مرکي په ترڅ کي ځرگند کړ او زياته يي کړه : مخکي له دي چي زه افغانستان ته سفر وکړم داسي فکر مي کاوه چي په افغانستان کي امنيت نشته او د بهرنيو کمپنيو د پانگي اچوني لپاره هم زمينه برابره نده خو کله چي افغانستان ته راغلم په دغه هيواد کي د امنيت او سولي او امنيت واکمن دي او خلک د اخوت او ورورولي په فضا کي ژوند کوي .

دده زياته کړه : دغه تصوير د لويديځو هيوادونو د ناوړو تبليغاتو له امله راته پيدا شوی ؤ او اوس چي افغانستان ته راغلي يم او واقعيتونه مي د سر په سترگو وليدل په صراحت سره وايم چي په افغانستان کي داسي سوله او امنيت تأمين دي چي ساري يي ان لشو کولي په گاونډيو هيوادونو کي ووينو .

دده افغانستان ته د خپل سفر د انگيزي په باب وويل :

مونږ د کجکي د برښنا د بند د بيا رغونې د چـــوپړولو د کار د پيل کولو په خاطر افغانستان ته راغلي يو چي په دې باب تفــاهم ليک لاسليک کړو .

دده زياته کړه : د ملگرو ملتو د سازمان د امنيت شورا بنديزونه

زمونږ په کاري بهير باندي اغيزه نه لري ژه د افغانستان خلکو ته ځرگندوم چي ځلويښت کاله مخکي د چين خلک هم له دغه شان بنديزونو سره مخامخ شول خو د چين خلکو په نه ستړي کيدونکي کار سره بنديزونه بې اغيزي کړل زه هيله لرم چي د افغانستان ملت به هم دغه ستونزې تيري کړي .

موسسه انساني وفا ...

وخيلي مجهز مي باشند در هريكي از آنان يك دواخانه ويك امبولانس در نظر گرفته شده است كه معاينه وتداوي مريضان ؛ همچنان توزيع ادويه از جانب اين مراكز براي مريضان بشكل مجاني صورت ميگيرد .

وي يگانه هدف ايجـــاد اين شبكه ها را خدمت به آن عده از مردم تلقي نمود كه از امكانات اوليه طي دور افتاده اند وسخت نياز مند كمك هاي صحي مي باشند واز همين وجه موجوديت وخدمات اين شبكه ها دور از شهرها براي مردم اطراف ولايات متذكره در نظر گرفته شد ه است .

موصوف علاوه داشت : درين مراكز طبيبان ذكور درخدمت مريضان مردانه و طبيبان اناث درخدمت مريضان زنانه قرار دارند .نامبرده اين راهم اضافه داشت كه براي مصرف هر مركز صحي در ماه ۲۵۰۰ دالر تخصيص داده شده است ؛ البته همين حالا خدمات اين مراكز در ولايات هرات ، كندهار وبادغيس آغاز گرديده وبزودي شبكه صحي كابل نيزافتتاح خواهدشد .

افغانستان د وسلو او ...

: د دغه مطبوعاتي کنفرانس په بهير کي چي د بهرنيو چارو وزارت په سفر کي جوړ شوی ؤ د بهرنيو چارو محترم وزير د هيواد سيمي او پوځي حالاتو ته په اشاري سره د اسلامي امارت د مخالفينو د جنايتونو دوام چي د جگړې د لاري په غوره کولو او د روسيي او د نورو اسلام د دښمنو هيوادونو له خوا د هغوي په وسله وال کيدو او سمباليدو سره غواړي د جگړې اور ته لمن ووهي او د پرمختللو او ويجاړوونکو وسلو په ترلاسه کولو سره له پخوا زيات زمونږ خلک په وينو او خاورو ولړي او ليت پيت يي کړي : د بهرنيو چارو محترم وزير د ميلان په نامه د پرمختللو وسلو په شمول سره چي په دې وروستيو وختو کي د اسلامي امارت د پوځونو لخوا له مخالفينو څخه ترلاسه شويدي د مخالفينو د معلوم الحالو او مغرضو هيوادونو او کريو پوځي او تسليحاتي مرستي په ډاگه کړي .

محترم متوکل ځرگنده کړه چي مخالفينو ته د ويجاړوونکو وسلو لېږل هيڅکله د خلکو د رد نشي دوا کولی . څکه د افغانستان خلکو د دوو لسيزو جگړې په بهير کي د جگړې ترېخ خوند په خپلو غوښو او پوستکو لمس کړيدي او هيڅ يوه توجيه نشته چي به د سولي او امنيت په برابرولو ئي تشه څخه يي برخي شي .

دده خپلو خبرو ته دوام ورکړ او وويل : مونږ له بشري پوليس ... په تيره بيا له هغو هيوادونو څخه چي د اسلامي امارت مخالفينو سره مرستي کوي غوښتنه کوو چي د مخالفينو د وسله وال کولو او سمبالولو او يا هغوی ته د ويجاړونکو وسلو د لېږلو پرځای د افغانستان له ملت سره مرسته وکړي او د درملو او نورو بشري مرستو په لېږلو سره زمونږ د خلکو په شل کلن پيټو به تري ولگوي .

محترم متوکل زياته کړه : د افغانستان له خلکو سره نړيوال حرکت غير عادلانه او غير منصفانه دي مونږ د اسلامي هيوادونو له خوا په رسميت نه پيژندل شوي خو غير اسلامي هيوادونه له دې کار څخه ډډه کوي ايا دا په خپله د افغانستان د خلکو او اسلامي امارت په وړاندې ځرگند تعصب نه دی .

د بهرنيو چارو محترم وزير په فلسطين کي د جگړې د دوام او د يهود يانو ظلمونو ته په اشاري سره وويل : د فلسطين مظلوم خلکو پوره نيمه پيړۍ په جگړه کي شپې سبا کړيدي .

دده وويل : په چيچنيا فلسطين او د نړۍ په نورو مسلمانانو او مستضعفو هيوادونو کي په سلگونو ته انسانان شهيدانيري خو هيڅ راز ناري سوري نه پورته کيږي . او په افغانستان کي د ميشتو هندوانو موضوع چي له هغوي سره په سلا مشوره او تفاهم کي طرحه شويده د نړۍ د لوي سپيکرونو په سر کي ځاي نيولي دي په همدي علت دي چي په افغانستان کي د بشر د حقوقو موضوع د بشر د حقوقو د په اصطلاح مدعيانو له غلط تعبير سره مخامخ شويدي او د اسلامي امارت رښتيني څيره بل ډول ښي .

محترم متوکل له بشري تولني څخه وغوښتل لکه څنگه چي اسلامي امارت د افغانستان د خلکو د نيکمرغي او ژوندانه د ښه والي غوښتنه کوي د هيواد د خلکو د لوږو کمبو له په پاړ کي نيولو سره خپلي بشر دوستانه مرستي له کومي پلمي پرته پرمخ بوځي په پای کي محترم متوکل د ژورنالستانو پوښتنو ته قناعت بخښـونکي ځوابونه وړاندي کړل .

بايسکل سواران ...

تخار شدند .

اژانس اطلاعاتي باختر خبر داد ،بايسكل سواران محترم محمد نذير پيكان و محترم محمد اجمير همدرد اعضاي تيم بايسكل راني مديريت سپورت رياست عمومي استخبارات كه ساعت هشت ونيم صبح پنجشنبه گذشته كابل را به قصد ولايت تخار ترك نمودند عصر پريروز بعد از هفتاد ساعت راه پيمايي وارد شهر تالقان مركز ولايت تخار شدند .

ايشان بعد از مواصلت به شهر تالقان با محترم قاري احمد الله رئيس عمومي استخبارات وسرپرست ولايت تخار ملاقات بعمل آورده و در رابطه به هدف سفر شان به شهر تالقان معلومات دادند

نيروهاي روسيه ...

گرجستان به اساس يك برنامه زمان بندي شده پايگاه هاي خودرا درگرجستان تخليه خواهدكرد . ادواردشيواردنادزي رئيس جمهور گرجستان هفته گذشته با اشاره به پايگاه نظامي روسيه دركشور ش مخالفت خود را با هرگونه حضور نظامي خارجي درگرجستان اعلام كرد .

په افغانستان کي د ...

کي د اپيټو ختميدل ورپا ته شول .

ششب وايي : که تاسي وگوري چي امريکا په کولمبيا کي څه کړي او څه کوي او څومره پيسي پري لگوي مثلاً همدا اوس قريب يو نيم مليارد ډالر پري لگول شويدي مگر هيڅ گټه يي نده کړي او مخدرات په کولمبيا کي بند ندي او دلته بيا طالبانو ته وگوري چي د کوکنارو کرني په يو کال کي بي له دې چي بهرني ئي ته ورسره مرسته وشي ختم کړ . البته چي دغه بنديز داوږدي مودې لپاره دوام وکړي بايد چي د کرني د نظام د بيرته جوړولو او په پښو د رلو لپاره ورسره د بهرنيه مالي مرستي وشي که نه نو بزگر به بيا مجبور شي چي د کوکنارو کرنه مخه کړي .

د لويديځي غاړي ...

العمل ښـودلي دي چي وايي د لويديزې غاړي په بهود ميشتو ځايونو کي به د اوو د سوو نوو کورونو د جوړولو د ټکلونو کار جاري وساتي . د فلسطين د کابينې سرمنشي احمد عبدالرحمن وويل چي کيداي شي دغه کړه د امريکې د استازي د سولې هلو ځلو د ماتي سره مخ کړي .

دوتنه امريکايي ...

سره لري او که نه . د او روستي څو شيبي مخکي خبر وايي چي د فتح بازانو خپل برغملان خوشي کړيدي خو د فتح غورځنگ ويلي دي چي له دې کاره هيڅ خبر نلري .

د پاکستان پوځي ...

سويي خبري اتري وي . دده او و غاړو ترمنځ د دوا او هيـوادونو له خوا د اتومي ازميښتونو او د کشمير د ستونزي له امله اريکي خړي پړي دي واجپاي ته په ليږلي ليک کي جنرال مشرف ويلي دي چي دي شـواو رښتينو خبرو اترو ته سترگي په لاره دي چي په کي د کشمير ستونزه د کشمير د خلکو د خوښي سره سم اواره شي د خبرو اترو لپاره ځانگړي تيتيه نه ده ټاکل شوي خو داسي گټل کيږي چي کيداي شي د جون د مياشتي په ... جولاي به تر سره کړي شي .

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq